# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|

انجنير سيدعبدالقادر

۱۰ فبروری ۲۰۱۳

## سوړ ژمي ، وږي او لڅ ماشومان

## تر څنګ يي دملي شتمنيو اقتصادي جنايتکاران !

په تيره اونی کي دنور دتلويزيوني شبکي له لاري دکابل په اتمه ناحيه کي د يو شمير هغو افغاني کورنيو څخه چې په دې ساړه ژمي کي يي په زړو او څيرو خيمو کي خپل ژوند تيراوه ، دمخامخ ليدو څخه يي داسي يو عيني را پورتاژ تهيه کړي او نشريي کړي ، چی ليدل يي ډير ژړه ونکي ، دردونکي او حيرانونکي وو ۰ په حقيقت کي يي په ليدو سره دسړي څخه دخپلي کورني دژوند لذت او محبت هيراوه ۰او په دې واورو کي ددې غريبو ماشومانواو ميندوحالات سړي داوښکو په درياب کي لاهو کاوه ۰او ربښتيني افغان يي دداسي يو سؤال سره مخامخ کاوه ، کرزي صاحب تا سواو ستاسو دلي چې پر دې وطن باندې دافغانستان اسلامي جمهوريت نوم ايښي دي ، آيا تاسو جهادي او غربي تکنو کراتي ډلو تپلوپه دې تيرو ۱۲ کلونو کي کوم کار داسلامي شريعت او اسلامي رکنونو برابر کړي دي؟ اسلام خو د شفقت او مهرباني دين دي ، اسلام خو دبې عدالتيو ، چور او چپاول ضد او ورور ولي دين دي ۰ ولي تاسو چې په اوس مهال کي ځان ددې برغمل ولس مشر بولي ، ديو ډير شمير بې عدالتيو تر څنګ ايا يو فيصد مو هم په دې ساړه ژمي کي ، ستا دزرين قصر په پينځه کيلو متري کي ددې غريبو ماشومانو ، ميندو او زړو دژوند څخه ځان خبر کړي دي ؟

چې دلوږي او تندي تر څنګ يي په دې ساړه ژمي کي ديخني له لاسه په سل هاوو ماشومان مريضان سوي او ۱۷ ماشومان په شهادت رسيدلي دي ؟

اوپه دې يخنيو کي دکورني دنورو ماشومانو دبقا له پاره دپينځه کلني نغمي پلورل ستاسو ځان کوم تکان وخوړ ي؟

تاسو چې داسلامي جمهوريت رئيس ځان بولي ، ددې بې وزلو کورنيو دنجات له پاره مو کوم څه کړي دي ؟

حتمي ده چې ځواب يي نه لري ۰ اسلامي مشر بايد هم داسي وي ؟

په لوړو عکسونو کي دا ماشومان چې په يخنيو او زړو جامو کي معلوميږي ، هري مور او پلار ته داسي ګران دي ، لکه پر تا چې خپل زوي ميرويس جان ګران دي ۰ او حق لري چې په ښکلو جامو کي يي په غيږ کي ونيسي او دخپلي پلرنی ميني محبت ور ښکاره کړي ۰ ددې غريبوکورنيوماشومانو بايد دژوند په دغو شيبو کي ستاسو او جهادي اقتصادي جنايتکارانو دماشومانو په څير دماشوم توب لوبي کولاي ۰ ولی دوي دکورني غربت له کبله په هغو ځايونو کي ګرځي چې دژوند دبقا له پاره کوم څه په لاس راوړي ۰ اوتر څنګ يي هم دپلرونو څخه داولاد سره مينه او محبت

نن امریکایي اشغالگرو ستا تر مشري لاندي دغربت سختو ځپو ددوي څخه دا هر څه اخستي دي ٠ آیا دا ستاسو اسلامي او وجداني وظیفه نه ده چې ددې غریبو زوړولو کورنیو څخه ځان خبر کړي ؟ اونه سې کولاي چې ددوي دخپل شرعي حق څخه حتا یو فیصد ورکړي ؟ کیدلایسي چې ددوي ژوند ددي حالت څخه راووزي ، او لږ تر لږه دژوند دښیګنو څخه چې الله پاک (ج) ورکړي دي لذت واخلي ٠ښکاره خبره ده چې هر ریښتیني افغان ته چې خپل ولس او ملي ګټو ته وفاداره وي دا حالت بیا ډیر زورونکي ښکاري ، او په دې باندي پوره پوهیږي چې ، ددي بې وزلو کورنیو هر غړي ، ماشوم دي که ځوان او که زوړ ، دخپل وطن په ملي شتمنیو کي دلویي برخي خاوند دي ٠ مګر متاسفانه چې په اوس مهال کي یي ګران وطن دنړي وال امپریالیزم چې په سر کي یي دامریکا متحده ایالات قرار لري ، ددوي دناټو دزبر ځواک له خواه تر اشغال لاندي راغلي او دا یرغمل ولس یي دخپلو ګوډاګیانو ( په اصطلاح جهادي او تکنوکراتي اقتصادي بشري جنایتکارانو ) له خواه د داسي بشري او اقتصادي ناورین سره مخامخ کړي دي ، څو وکړایسي اشغالي ځواکونه ددې لاري څخه خپلو شومو مخو ته ځانونه ورسوي ٠او تر څنګ یي خپلو ګواډاګیانو ته دا حق او صلاحیت ورکړي دي ، چې دافغانستان دملي شتمنیو په چوړولو کي نه یوازي د چاه پروابلکه ویره هم ونه لري ٠ دا ځکه چې دناټو یرغلي ځواک یي حمایه کوو نکي دي ٠ ځکه نو په دې ساړه ژمي کي دځیرو خیمو وڅنګ ته په غلا سوو ملي شتمنیو باندي لوړ پوړي تعمیرونه هم شتون لري ٠چې په اوسني مهال کي یي مالکین هم دغه په اصطلاح جهادي او تکنوکراتي دملي شتمنیوغله دی ٠ ددی اقتصادي جنایتکارانو دچل او چم څخه ډک رنګارنګ کالي ، دسردسمالونه ، پکولونه لوي او کوچني ږیري سړي ته درحمان بابا هغه ښکلي شعر چې د لویي معنا لرونکي او دانسانیت ډیر څه پکښي نغښتي دي ، ورپه یاده وي ٠ چې وایي :

سړي په رنګ نه سړي کیږي ـــ سړي هغه دي چې یي خوي دسړو وینه

ددي شعر څخه هم داسي نتیجه اخستل کیدلایسي ٠ چې یوازي دولس په وړاندي په چل او چم باندي نه سي کیدلاي چې ځانونه دمقدس اسلام مدافعین وبولي ځکه عمل ، یي باید دیوه ریښتني مسلمان وي یعني دغلا او بشري جنایت څخه ځانونه لیري ساتل دی ٠ ولي متاسفانه دامریکا تر اشغال لاندي د جهادي ټیکه دارانو او تکنوکراتانو کړني نه یوازی دملی ګټو بلکه داسلامی شریعت سره هم په تقابل کی قرار لري ٠

دلیکني په وروستی برخه کي باید ووایو چې دې وحشیانه اشغال او فاسد رژیم ته هغه وخت دپاي ټکي ایښوول کیدلایسي ، چې افغان ولس په بیساري مقاومت دسیاسي حل دلاري واک تر لاسه او بیا دټولټاکنو دلاري یو ډموکراټیک نظام رامنځ ته کړي ٠ او دې هدف ته بیا هغه وخت ولس ژرتر ژره رسیدلایسي چې سیاسي ملي ګوندونه هم په ریښتینه توګه ببله کومه ځنډه او ویري ولس ته په صداقت لاس ورکړي ٠ چې په پایله کي به په وطن کي دابشري او اقتصادي ناورینونو ته دپاي ټکي ایښوول سوي ، او داقتصادي جنایتکارانو څخه به بیرته ملي شتمني تر لاسه او بیت المال ته به وسپارل سي ٠

تمت بالخیر